د افغانستان اسلامي امارت

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایات

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي

---

۹/ ربیع الثاني/۱۴۴۴هـ ق، مطابق ۱۳ /عقرب /۱۴۰۱هـ ش

# د کفارو سره د دوستۍ بدې پایلې

الحمد لله حذرنا من الركون إلى الكفار لما فيه من الاضرار، وأشهد أن لآ إله إلا الله يخلق مايشاء ويختار، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله سيد الأبرار صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه المهاجرين منهم والانصار وسلم تسليماً كثيرا.

اما بعد: قال الله تعالى:{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لاَ يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ} آل عمران: (۱۱۸)

له کفارو سره دښمني کول او د مسلمانانو سره دوستي کول دایمان تقاضا ده.

دا د ایمان غوښتنه ده چې مسلمان باید له کافر سره په زړه کې دښمني ولري او د مسلمان سره دوستي ولري ؛ ځکه چې کفار په خپلو منځونو کې یو دبل سره دوستان دي او د مسلمانانو سره دښمني کول دهغوی اصلی حالت دی.

دا د مؤمن شان دی چې د نورو مؤمنانو سره به مینه، محبت او دوستي کوي او له کفارو سره که هغه یهود دي، که نصارى دي، که هغه مشرکین دي او که هغه ملحدین دي هغوی سره به دښمني کوي.

د کفارو سره دوستي کول دایمان منافي عمل دی او د کفارو سره دښمني کول دایمان غوښتنه ده.

شرعي نصوص په صراحت سره وایې چې مؤمنان په خپلو منځونو کې سره دوستان دي او کافران په خپلو منځونو کې او کفار هیڅکله دمؤمنانو دوستان کیدای نشي.

د همدې امله اسلامي شریعت وایي چې ( الْكُفْرُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ) ټول کفر یو دین دی.[موطأ]

داسلامي نصوصو له مخې د هرچا صف معلوم دی؛ د مسلمانانو مستقل صف دی او د کفارو مستقل صف دی او هر یو صف خپلې ځانګړتیاوې لري، آن تردې پورې چې نسبي ورور چې کافر وي اوورور نه دی او دوستي ورسره په کار نه ده.

الله تعالى فرمایلي دي: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَتَّخِذُوا آبَاءكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنْ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الإِيمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ} التوبة:(۲۳)

**ترجمه:** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی مه نیسئ تاسې پلرونه خپل او ورونه خپل دوستان که محبوب ګڼه دوی کفر پر ایمان او هرچاچې دوستي وکړه له دغو (کفارو) سره له تاسې نو دا کسان هم دوی دي ظالمان.

په اسلامي شریعت کې ددوستۍ معیار ایمان په ګوته شوی دی نه نسب او نه خپلولي.

د الله تعالی لپاره مینه کول او دالله تعالی لپاره بغض ساتل دایمان برخه ده.
د دوستۍ اساس په مینه او محبت ولاړ دی لکه څرنګه چې ددښمنۍ اساس په بغض او نفرت ولاړ دی. څوک چې له بل چا سره دوستي کوي باید دهغه سره مینه، محبت هم ولري او په کارونو کې ورسره مرسته وکړي او چې سخته وربانديې راشي باید د همکارۍ لاس ور اوږد کړي . د کفارو سره دا ډ ول محبت او دوستي کول حرام او ناوړه کړنه ده.
په دې کې شک نشته چې د دوه کسانو، دوه دولتونو یا دوه ډولنو ترمنځ دوستي په مینه، محبت، ملګرتیا او مرستې باندې ولاړه وي او د دواړو جانبینو ترمنځ همکاري او مرسته او خواخوږي په کې پرته وي په اسلامي شریعت کې د کفارو سره دا ډول دوستي حرامه ده او دکفارو سره دوستي کول ډیر زیات خطرناکه پایلې له ځان سره لري.
ځینې ضعیف الایمان مسلمانان د کفارو په دوستۍ کې عزت لټوي حال داچې عزت دالله تعالی او دهغه د رسول او د دمسلمانانو لره دی. {وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَعْلَمُونَ} المنافقون: (۸)
**ترجمه:** او خاص الله لره دی عزت او غلبه او رسول دده لره دی او مؤمنانو لره دی ولکن منافقان نه پوهیږي( په عزت او رازقیت د رب العزت).
د کفارو سره دوستي لاندې پایلې له ځان سره لري:
**۱- د نفاق په خټه کې لویدل:**

د اسلام په ابتداء کې د مسلمانانو دوستي یواځې د مؤمنانو سره وه او له کفارو سره یې هیڅ ډول دوستي نه درلوده؛ بلکې د کفارو سره یې سخته دښمني درلودله، دا منافقان ؤ چې د کفارو سره به یې دوستي قایم ساتله هغه هم د عزت، مقام او منصب د ترلاسه کولو لپاره لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:{بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا . الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا}النساء: (۱۳۹)

**ترجمه:** زیری ورکړه( ای محمده) منافقانو ته په دې چې بیشکه شته دوی ته عذاب درد ناک هغه کسان چې نیسي- دوی کافران دوستان(خپل) بې له مؤمنانو ایا لټوي دا (منافقان) په نزد ددې (کفارو) عزت پس بیشکه (دنیوي او اخروی) عزت خاص الله لره دی ټول.

بناءً هرڅوک چې دمنافقانو په نقش قدم باندې لاړشي او له کفارو سره دوستي قائم کړي ترڅو ددې لارې څخه موقف او منصب ته ورسیږي بیشکه په نفاق اخته شوی دی. لکه ځینې اسلامي ملکونه چې د کفارو سره د زړه نه دوستي کوي او دمسلمانانو په وژنه کې ورسره مرسته او همکاري کوي او د ابورغال کردار ادا کوي چې د ابرهه د لښکرو لپاره یې د لارښود نقش ادا کړی ؤ او کله چې مړ شو خلکو یې قبر په تیګو وویشتلو.
**۲- د محمدي سپیڅلي شریعت څخه انحراف:**
د کفارو سره دوستي که په انفرادي توګه وي او که ددولتونو په سطحه وي، مسلمانان د خپل اسلامي قانون څخه منحرف کوي؛ ځکه کفار یواځې د روابطو په درلودلو اکتفاء نه کوي، بلکې هغوی ددې لارې څخه خپل شوم اهداف د بشر- دحقوقو، د ښځو دحقوقو، د بیان د آزادۍ او دیموکراسۍ ترعنوان لاندې د مسلمانانو او اسلامي ټولنو کې تطبیقوي او ددې کارونو دترویج لپاره هغوی د اسلامي هیوادونو سره د کومک او مرستې په نامه زیات مصارف کوي.
لکه چې مونږ وینو کفارو په اکثره اسلامي هیوادونو کې دیموکراسي د ددوستۍ له لارې رائج کړی ده او دیموکراسۍ لوری ته تلل، ښکاره داسلامي شریعت څخه انحراف دی او په دې صورت کې مسلمان د الهي عذاب مستحق ګرځي او د هغه لپاره دعذاب څخه د نجات لپاره به هیڅ یار او ملګری نه وي.الله تعالی خپل پیغمبر ته په خطاب کې وایې چې په حقیقت کې دا

امت ته یو اخطار دی فرمايي:{ وَلَن تَرْضَى عَنكَ الْيَهُودُ وَلاَ النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ} البقرة: (۱۲۰)

**ترجمه:** او هيڅکله به راضي نشي له تانه (ای محمده) يهودان او نه نصرانيان ترهغه پورى چې متابعت وکړې ته ددين دوی . ووايه (ای محمده دوی ته چې) بيشکه هدايت دالله (اسلام) همدغه هدايت دی او قسم دی که چيرې پيروي وکړې ته د ارزوگانو ددوی وروسته له هغه چې راغلی دی تاته له علمه نو نه به وي تالره له (عذابه د) الله هيڅ دوست او مددگار.

**۳- دکفارو سره د برائت نه کول:**

په اسلام کې د مهمو موضوعاتو څخه د ولاء او براء (دوستي او دښمني) موضوع ده چې مسلمان به له چا سره دوستي کوي او له چا سره به دښمني کوي؛ مسلمان بايد د کفارو څخه د يهودو او نصارى په شمول برائت (بيزاري) وکړي؛ ځکه دکفارو د مسلمانانو سره دشمني کول کومه سياسي، اقتصادي يا اجتماعي موضوع نه ده بلکې دمسلمان سره دشمني کول د کفارو عقيده ده او کفار تل هڅه کوي چې مسلمانان له دين او عقيدې څخه واړوي او منحرف يې کړي لکه چې الله تعالى فرمايي:{وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّن بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّاراً حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُواْ وَاصْفَحُواْ حَتَّى يَأْتِيَ اللّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ}البقرة: (۱۰۹)

**ترجمه:** خوښوي ډير له اهل دکتاب څخه ( دا) چې وگرځوي دوی تاسې پس له ايمان راوړلو ستاسې کافران د حسد ( له سببه) چې له (خپلو) نفسونو ددوی (پيداشوي دی) ورسته له هغه چې ښکاره شو دوی ته حق (چې رسول، اسلام ، دين دی) نو عفوه وکړئ او مخ تری وگرځوئ تر هغه پورى چې راوليږي الله امر خپل (په جهاد ددوی او يا په جزيه اخيستلو ددوی نه) بيشکه چې الله په هرشي ښه قادر دی.

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالى فرمايي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ}آل عمران: (۱۰۰)

**ترجمه:** ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی که تاسې حکم ومنئ د يو فريق له هغو کسانو چې ورکړې شوی دی دوی ته کتاب نو بيرته به ورگرځوي تاسې وروسته له ايمانه ستاسو کافران.

په يو بل آيت کې الله تعالى فرمايي:{ وَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَاء فَلاَ تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ أَوْلِيَاء حَتَّىَ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتَّمُوهُمْ وَلاَ تَتَّخِذُواْ مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلاَ نَصِيراً}النساء: (۸۹)

**ترجمه:** دوست گڼي دوی که تاسې کافران شی لکه چې کافران شوي دي دوی، نو شی به تاسې او دوی تول سره برابر( په کفر کې) نو مه نيسئ تاسې ( هيڅوک) له دوی نه دوستان ترڅو چې هجرت وکړي په لاره د الله کې نو وگرځيدل دوی (د لارې دالله ) نو ونيسئ تاسې دوی ( او بنديان يې کړئ) او وه وژنئ تاسې دوی هرچېرې چې ومومندل تاسې دوی او مه نيسئ تاسې ( هيڅوک له دوی څخه دوست او نه مددگار.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مشرکانو څخه د برائت (بيزارى) په اړه فرمايلي دي:(عَنْ أَبِي نُخَيْلَةَ الْبَجَلِيِّ قَالَ: قَالَ جَرِيرٌ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُبَايِعُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ابْسُطْ يَدَكَ حَتَّى أُبَايِعَكَ، وَاشْتَرِطْ عَلَيَّ، فَأَنْتَ أَعْلَمُ، قَالَ: أُبَايِعُكَ عَلَى أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتُنَاصِحَ الْمُسْلِمِينَ، وَتُفَارِقَ الْمُشْرِكِينَ). رواه النسائى

**ترجمه:** دابو نخَيله بجلي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې جرير رضی الله عنه فرمايي چې زه پيغمبرعليه السلام ته راغلم او هغه له خلکو سره بيعت کولو ورته مې وويل: ای دالله رسوله! خپل لاس خلاص او وغوړوه ترڅو زه درسره بيعت وکړم او په ما باندې شرط ولگوه ته ښه پوهيږې.رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه درسره بيعت کوم په دې چې د الله تعالى عبادت به کوئ ا لمونځ به قائموئ او زکات به ورکوئ او مسملنانو ته به نصيحت کوئ او دمشرکانو څخه به جدا کيږئ.

د ځينو ضعيف الايمان خلکو او دولتونو عقيده داسې جوړه شوی ده چې که چيرې مونږ له کفارو سره دوستي ونه کړو اقتصادي مشکلات به مو زيات شي لکه څرنگه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې به منافقانو داخبره کوله:

{فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ} المائدة: (52)

**ترجمه:** نو وبه وينې هغه کشان چې په زړونو ددوی کې مرض دی (رنز دنفاق ) چې ځغلي به په (دوستی د) دوی کې وايې به دوی ( په عذر کې چې) ويريږو له دې چې وبه رسيږي مونږ ته کومه حادثه (قحط) نېژدی ده چې الله به راتله و کړي په بری ايا يو حکم له خپل جانبه ( په اظهار دحال د منافقينو) نو وبه گرځي دوی په هغه شي چې پټ کړی دی دوی په نفسونو خپلو کې ( له شك او دوستي د کفارو) پښيمانه.

**۴- د کفارو سره دوستي د مسلمانانو عقايد فاسدوي**؛ ځکه د کفارو کوشش دادی چې د مسلمانانو عقايد ورفاسد کړي ترڅو مسلمانانو ته الحادي مفکوری پيچکاري کړي او مسلمانان په شهوتونو مبتلاء کړي او کفار د مسلمانانو په هکله د هر ډول فساد څخه دريغ نکوي.

**۵- د کفارو سره دوستي له امله اسلامي هيوادونه او مسلمانان دکفري فرهنگي تهاجم لاندې واقع کيږي:**

اسلامي هيوادونه د کفري فرهنگي تهاجم لاندې په دې توگه رازي:

- **د کفارو د تبليغاتو لاندې راتلل:** داچې اکثره وخت د کفارو دوستي دداسې کسانو له خوا ترسره کيږي چې داسلام څخه پوره معلومات نلري او د بلې خوا کفار داسلام پر ضد زهرجن تبليغات کوي له دې امله هغه کسان چې داسلام څخه پوره او هر اړخيز معلومات نلري عوام مسلمانان او تنکي ځوانان د کفارو دتبليغاتو ښکار کيږي.

- **د مسيحيت نشر او خپريدل:** ددوستۍ ترعنوان لاندې په اسلامي ټولنو کې کفار مسلمانان مسيحيت ته دعوتوي او په نتيجه کې عوام مسلمانان او ځوانان د مسيحي دعوت ښکار کيږي.

- **د اخلاقي فساد زياتوالی:** کفار د اخلاقي فساد دترويج لپاره زيات پروگرامونه لري او غواړي چې په اسلامي مقدسو ټولنو کې فحشاء او اخلاقي فساد ترويج کړي چې ددې يرغل مخه نيول ډيا گران کاروي؛ ځکه ددوستۍ په ترونونو کې دې خبرو ځای ورکول کيږي.

- **د ځوان نسل محوه کيدل او د وارداتي نمونو رامنځ ته کيدل:** د ځوان نسل د تباه کولو لپاره کفار مختلف ماډلونه وارودي چې له امله يې دځوانانو اسلامي تشخص او هويت له منځه ځي او کفري تشخص اوهويت داسلامي هويت او تشخص ځای نيسي.قرآن کريم مونږ مسلمانانو ته داسلام ستر پيغمبر محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم د نمونې او الگو په حيث معرفي کړی دی.{ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيراً}الاحزاب: (۲۱)

**ترجمه:** خامخا په تحقيق دی تاسې په (کار د) رسول الله کې اقتداء غوره نيکه د پاره د هغه چا چې وی دی چې ډاريږي له الله (او اميد لري د رضا او دلقاء يي) او ورځې وروستنی (قيامت) او يادوي الله ډير.

**٦- په کفر رضايت**؛ د کفارو سره ددوستۍ په نتيجه کې د کفارو په کفر رضايت رامنځ ته کيږي او دمسلمان په زړه کې دکفارو د کفر په رابطه شك او ترديد رامنځ ته کيږي چې دا ډيره خطرناکه خبره ده.

**۷- د کفارو سره عزت لټول**؛ د کفارو په دوستۍ کې خلك د هغوی سره عزت او قوت لټوي؛ حال دا چې عزت او ذلت دواړه دالله تعالی په لاس کې دي او د کفارو په لاس کې عزت لټول دمنافقانو صفت دی.الله تعالی فرمايلي دي: {بَشِّرِ

الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَاباً أَلِيماً. الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً }النساء: (۱۳۹)

**ترجمه:** زیری ورکړه( ای محمده) منافقانو ته په دې چې بیشکه شته دوی ته عذاب درد ناک هغه کسان چې نیسي۔ دوی کافران دوستان(خپل) بې له مؤمنانو ایا لټوي دا (منافقان) په نزد ددې (کفارو) عزت پس بیشکه (دنیوي او اخروی) عزت خاص الله لره دی ټول.

امام ابن جریر طبري ددې آیت په تفسیر کې فرمایي: فإن الذين اتخذوهم من الكافرين أولياء ابتغاءَ العزة عندهم، هم الأذلاء الأقلاء) تفسیر طبری ترجمه: هغه کسان چې کفار په دوستی سره ونیسي او دهغوی سره عزت و لټوي هم دوی ذلیله او کم خلك دي.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې مونږ په خپلو سترګو ولیدل چاچې د کفارو سره ملګرتیا کړی ده او د هغوی په لاس کې یې عزت او قوت لټولی دی د خپلو بادارانو له خوا په ډیره بې شرمی سره یا وژل شوي دي او یا هم شړل شوي دي او یا په تش میدان پریښودل شوي دي.

مونږ ولیدل چې روسانو خپلو لاس پوڅو او غلامانو سره څه وکړل نورمحمد ترکی یې په حفیظ الله امین وواژه او حفیظ الله امین یې په خپله وواژه، امریکایانو خپل غلامان په تش میدان پریښودل او خپله یې د میدان څخه پښې سپکې کړی چې اوس دامریکا غلامان په ذلت سره په پردو ملکونو د ذلت شپې سبا کوي امریکا عین دا تجربه په ویتنام کې تکرار کړی ده چې دا دکفارو سره ددوستی پایله او نتیجه ده. همدا راز د کفارو سره ددوستی پایله داده چې اوس په خپل لاس روزل شوي صفري قطعات د اوکراین جنګ ته د اجیرانو په صفت لیږي.

**۸- د اسلام څخه وتل**؛ د کفارو د دوستی په نتیجه کې د کفارو سره ملګرتیا، د هغوی سره مینه او محبت کول او هغوی سره د هغوی په دیني چارو کې مرسته او ملتیا رامنځ ته کیږي چې مسلمان وروباندې د اسلام څخه وزي.

الله جل جلاله فرمایلي دي:{لاَّ يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللّهِ الْمَصِيرُ} آل عمران: (۲۸)

**ترجمه:** نه دی نیسئ مؤمنان کافرانو لره په دوستی سره پرته له مؤمنانو (یعنی مؤمنان دې یو له بل سره دوستي وکړي) او څوك چې دا کار کوي(چې کافران په دوستی نیسي) نو نه دی ( دده تعلق ) له ( دین دالله یا دوستی د) الله سره په هیڅ شی کې ، مګر (خو روا ده دغه دوستي) که ځان ساتی تاسې له دوی نه په ځان ساتنه سره.

امام طبري ددې آیت په تفسیر کې وایي: څوك چې کفار په دوستی او ملګرتیا سره ونیسي او د هغوی سره په دین کې مرسته او ملتیا کوي او د مسلمانانو په مقابل کې ورڅخه مرسته غواړي، الله دداسې خلکو څخه بیزاره دی او دوی د الله څخه بیزاره دي؛ ځکه دوی په دې کار سره داسلام څخه مرتد شوي دي، مګرددې حکم څخه هغه کسان مستثنی دي چې دکفارو د شر ددفع کولو په خاطر دوی ظاهرا په خوله باندې ورسره د ملګرتیا اظهار کوي او په زړونو ور سره کرکه او نفرت لري او دهغوی سره په کارونو کې مرسته نه کوي او دمسلمان په مقابل کې یې ملتیا نه کوي.[ تفسیر طبری ]

**۹- په فتنو اخته کیدل**؛ د کفارو سره د ددوستی په پایله کې د هغوی په معتقداتو، فرهنګونو او ارزښتونو باور رامنځ ته کیږي چې دمسلمان دایمان د زوال باعث ګرځي او د مسلمان عقیده په فتنه کې پریوزي.

۱۰- دکفارو د قانون ته غاړه ایښودل، دکفارو د دوستۍ له امله داسې حالت هم رازي چې مسلمان خپلې مسئلې او قضایاوي کفري قانون ته وړاندې کړي او کفري قانون ته غاړه کیږدي او کفري قوانین په ځان عملي کړي، چې دکفارو قانون ته غاړه ایښودل ستره ګناه ده، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: { وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ}المائدة: (۴۴)

**ترجمه:** او هر چا چې ونه کړ حکم ( فیصله) په هغه شي چې نازل کړی دی الله نو داکسان هم دوی دي کافران.

**۱۱- په کفارو او په کفر د اعتماد اوباور زیاتیدل؛** د کفارو سره ددوستي په نتیجه کې په کفارو او د کفارو په دین باندې باور زیاتیږي اوپه ځینو وختونو کې مسلمان دهغوی مرستې غوښتلو ته اړ وزي. زیات لیدل شوي دي چې ددوستۍ په تړونونو کې کافر دمسلمانانو په چارو کې چارواکی مقرر شوی دی او د مسلمانانو د رازونو او اسرارو کې د کافر مقررول نوری خطرناکې پایلې هم لري او کفار دمسلمانانو پر ضد پلانونه او دسیسې جوړوي. په لاندې آیت شریف کې د مسلمانانو په اړه د کفارو د ناوړه نیتونو او بدو ارادو څخه یادونه شوی ده:{ هَا أَنْتُمْ أُولَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ} آل عمران: ۱۱۹

**ترجمه:** واورئ خبردارشئ تاسې هغه کسان یی چې دوستي کوئ ددوی سره او نه کوي دوستي دوی له تاسې سره او تاسې ایمان لرونکي يي په ټولو کتابونو او کله چې یوځای شي دوی له تاسې سره نو وایی دوی ایمان مو راوړی دی او کله چې یواځې شي دوی نو چیچې دوی په تاسې باندې سرونه د ګوتو له ( ډیره ) قهره ووایه ( ای محمده دوی ته) مړه شئ په قهر خپل سره بیشکه چې الله عالم دی په هغو ( خبرو) چې په سینو کې دي.

**۱۲- دکفارو سره پټه دوستانه ساتل؛** د کفارو سره ښکاره دوستي د کفارو سره د پټې دوستۍ (بطانة) باعث ګرځي هغه څه چې الله تعالی ورڅخه مؤمنان منع کړي دي. الله تعالی فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ} آل عمران: ۱۱۸

**ترجمه:** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی مه نیسئ تاسې دوستان د راز ( له هیڅ فرقې چې وی) غیر له تاسې ( مؤمنان) هیڅ کمي نه کوي دوی له تاسو سره دفساد( او ضرر رسولو) دوست ګڼي دوی ضرر ستاسې په تحقیق ښکاره شوی دی بغض او دښمني له خولو له دوی نه او هغه بغض چې پټوي سینې ددوی ډیر لوی دی( له هغه چې په خوله یې وایې) په تحقیق بیان کړی دی مونږ تاسې ته علامې ( دنفاق ددوی)که یې تاسې چې عقل چلوی په کې.

امام قرطبی رحمه الله وایې:( په دې آیت کې الله تعالی مؤمنان ددې نه منع کړي دي چې کفار، یهود او د بدو عقیدو خاوندانو سره په پټې دوستۍ سره مه نیسئ چې د هغوی سره ملګرتیا وکړی او هغوی ته خپل کارونه وسپاری). الجامع لأحكام القرآن

**۱۳- د کفارو لپاره دالله تعالی څخه ښښنه غوښتل؛** دکفارو سره دوستي له امله مسلمان دی ته اړوزي چې له کفارو سره د هغوی لپاره دعا او استغفار وغواړي او د هغوی د نومونو او القابو په څیر په خپل ځان او اولاد باندې نومونه او القاب کیږدي او دهغوی درناوی او تعظیم وکړي چې دا کارونه د مسلمان له شان او حیثیت سره نه ښایي او حرام دي.

الله تعالی مؤمنان دکفارو د مغفرت غوښتلو څخه منع کړي دي.{ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ } التوبة: ۱۱۳

**ترجمه:** نه دی (لائق او روا) نبي ته او هغو کسانو ته چې ایما ن لرونکي دي دغه چې مغفرت وغواړي دوی دپاره د مشرکانو اګرکه وي دا (مشرکان) خاوندان دخپلوۍ وروسته له دې خبرې چې ښکاره شي دوی ته چې بیشکه دوی صاحبان دي ددوزخ.

مفسرين كرام فرمايې :( دا آيت شريف د كفارو سره په ژوند او مرگ كې ددوستى پريكولو ته شامل دى؛ د همدې امله يې مؤمنانو ته نه دي جائز كړي چې د مشركانو لپاره د مغفرت دعا وغواړي او دمشرك لپاره د مغفرت غوښتل هغه څه دي چې جواز نلري) الجامع لأحكام القرآن

۱۴-د كفارو ددوستى پايله داده چې څوك دكفارو سره دوستي كوي د وخت په تيريدو سره د دكفارو سره ځان مشابه كوي، دهغوى په څير به لباس اچوي، د هغوى په څير به خبرى كوي او دهغوى د رسوماتو او عنعناتو متابعت به كوي چې په دې كارونو سره د مسلمان شخصيت او هويت له منځه ځي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دى: ( مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ). سنن أبى داود

**ترجمه:**چاچې ځان مشابه كړ د يو قوم سره، دى هم د هغوى له ډلى دى.

د يو بل حديث كې رازي: (لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لاَ تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ ولاَ بِالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَ اليَهُودِ الإِشَارَةُ بِالأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الإِشَارَةُ بِالأَكُفِّ) سنن الترمذي

**ترجمه:** زمونږ د ډلى څخه نه دى هغه څوك چې ځان د نورو (كفارو) سره مشابه كړي پرته له مونږ څخه ، مشابهت مه كوئ د يهودو سره او مشابهت مه كوئ د نصاراو سره، ځكه د يهودو سلام په گوتو سره اشاره كول دي او دنصاراو سلام په ورغوي سره اشاره كول دي.

۱۵-څوك چې د كفارو سره دوستي كوي ممكن چې دهغوى وطن ته به هجرت كوي او ممكن پرته له حاجته د كفر په وطن كې اقامت غوره كړي، چې مسلمان د داسې كارونو څخه منع شوى دى. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دى: ( أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ). سنن أبى داود، الترمذى

**ترجمه:** زه بيزاره يم د هر هغه مسلمان څخه چې اوسيږي په منځ دمشركانو كې .

۱٦-د كفارو سره د دوستى له امله د كفارو په اخترونو او ديني مراسمو كې برخه اخيستل كيږي او دكفارو په ديني او ملي مراسمو كې برخه اخيستل چې دا د شريعت سره مخالف كار دى. په لاندې آيت شريف كې :{ وَالَّذِينَ لاَ يَشْهَدُونَ الزُّورَ } . ځيني مفسرين كرام وايې چې د (الزور) څخه مراد د كفارو اختر دي.[ تفسير ابن أبي حاتم]

۱۷-د كفارو ددوستى پايله داده چې مسلمان د هغوى د ترقى او تمدن څخه متأثره كيږي او بيا به د كفارو د تمدن صفتونه كوي او كوښښ به كوي چې د هغوى په قدم قدم واخلي. الله تعالى په اړه فرمايلي دي:{ وَلاَ تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَى } طه :۱۳۱

**ترجمه:** او مه اوږدوه (نظرد) سترگو خپلى هغه څيز ته چې نفع وركړى ده مونږ په هغه څيز سره چې قسماقسم دي دغو( كفارو) ته ښايست دژوندانه لږ خسيس د پاره ددى چې واز موو دوى په دې كې او رزق روزي د رب دتا( چې تاته يې دركړى له نبوته علمه بهتر ډير غوره) خير او اوږده ده .

خو ددې څخه دا مطلب نه دى چې مسلمانان به اقتصادي، علمي او نظامي قوت او ترقي ونلري؛ بلكې دا د مسلمانانو دنده ده چې د دوى څخه په پيشرفت كې مخكې شي او كفار زمونږ پسې روان شي، لكه په ماضي كې چې كفري نړى مسلمانانو ته محتاجه وه.

**۱۸-** د كفارو سره ددوستى پايله دا هم ده چې د هغوى تاريخ باندې به عمل كول كيږي.

په تاريخ کې شرکت ددې باعث گرځي چې دهغوی ملي او ديني ورځې ولمانځل شي؛ لکه دعيسی عليه السلام پيدايش او داسې نور ...د همدې مشارکت څخه د لری والي په خاطر اسلامي تاريخ رامنځ ته شو.

**۱۹-** د کفارو سره ددوستۍ پايله داده چې د کفارو له خوا جوړ شوي وضعي قوانين اسلامي نړۍ ته راغلي دي او د شرعي قوانينو ځای ناسته شوی دی.

نن صبا په ټوله اسلامي نړۍ کې کفري قوانين حاکم دي چې د شرعي قوانيونو سره په ټکر کې دي.

**۲۰-** د کفارو سره ددوستۍ څخه په اسلامي هيوادونو کې د تعليمي او تربيتي سيستم اغيزمن کيږي او په اسلامي ټولنو کې کفري تقليدات مروج کيږي.

په ټوله اسلامي نړۍ کې تعليمي او تربيتي سيستم دکفارو څخه کاپي شوی دی؛حال دا چې اسلام په دې برخه يوکامل نظام لري.

## د کفارو سره تعامل جائزدی:

د کفارو سره تعامل د دوستۍ په معنا نه دی.

ديني نصوص په دې دلالت کوي چې د کفارو سره تعامل کول جواز لري او د کفارو سره تعامل د دوستۍ معنا نلري.

د کفارو سره تعامل په دنيوي امورو کې وي لکه اخيستل او خرڅول، اجاره ورکول او په اجاره اخيستل. پيغمبرعليه السلام عبدالله ابن اريقط د لارښود په صفت نيولی ؤ.

همدا راز رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو يهودي سره خپله زغره د په گرو په توگه ايښې وه او داسې بې شميره دلايل موجود دي چې د کفارو سره معامله کول جائز دي.

بله داچې دغيرمحارب کفارو سره نيک چلن هم جواز لري ددې لپاره چې اسلامي اخلاق وربانديې اثر وکړي او ايمان راوړي.

او يو کس ابورغال په نامه يې د لارې دلارښود په توگه ابرهه سره کړ ترڅو ابرهه ته د کعبې شريفې لاره وروښايي.
کله چې ابرهه د(مغمس)نومې ځای ته چې دطائف او مکې مکرمې ترمنځ پروت دی، ورسيد خپل کسان يې مکې مکرمې ته وليږل؛ ترڅوداهل تهامه يعنی دقريشو مالونه راټول کړي او له ځانه سره يې يوسي او ابورغال په (مغمس) کې وفات شو او وروسته بيا دعربوخلکو د ابورغال قبر سنگسارکړ او په مغمس کې دا هغه قبردی چې خلک يې په تيگو ولی.(السيرة النبوية لابن هشام)
په هروخت کې د ابو رغال په څير کسان هم شته چې خپله خو داسلامي مقدساتو او نواميسو دفاع نه کوي ، بلکې اجنبي طاغوتيانو لپاره دلارښود او رهنما کردار اداکوي او کورته يې راولي، داسې کسان دې په دې پوهه شي چې ددوی سرنوشت به هم لکه دابورغال په څير وي چې خلکو يې قبر پس له مرگه هم په تيگو سنگسار کړ.

**والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته**